

# د امت په راتلونکي کې د جوماتونو د امامانو رول

لیکنه: انجنیر خرم مراد

ژباړه: مولوی محمد امان رسولي

نشر: انتشارات اصلاح افکار

# ډالۍ

- خپل محترم والد صاحب مولوی محمدزمان (رح) ته چې زيات وخت يې په اندروړ او د هجرت په ديار کې د امامت دنده په غاړه لرله او جومات يې په علم آباد ساته.
- او همدا راز د اسلامي امت هغه با احساسه امامانو ته چې د نبوي جومات دستر امام په پله روان دي او خپلو مقتديانو ته نوی روح ببښي زه دغه متواضع ژباړه اهداء کوم.

محمد امان (رسولي)

20/9/1386

www.EslahOnLine.net

بسم الله الرحمن الرحيم

د جومات امام زمونږ په مسلمانه ټولنه کې يو ځانګړی مقام لري، د عام وګړي په اند هغه په دين پوه شخص دی، چي ډېر لوی مقام دی، د رسول الله صلی الله عليه وسلم د حديث له مخي عالمان په حقيقت کې د انبياوو وارثان دي، همدا وجه ده چي د امامت فريضه د خپلي مرتبې او مقام په لحاظ د الله جل جلاله له لويو پيرزوينو څخه ده. چا ته چي دغه منصب ورکړل شي په حقيقت کې هغه لوی نعمت تر لاسه کړ او په دې چي څومره شکر ادا کړي بيا هم کم دی له دې سره هغه علم او پوهه ده چي انبياوو ته راغلي وه، د نبيانو د وراثت وياړ لري او ده ته د خلکو د امارت، لارښوونې، تزکيې او روزنې فرصت ور په برخه شوی دی.

بدمرغي دلته ده چي د مسجد امامت زموږ په ټولنه کې يو عادت ګرځېدلی دی ته به وايې چي يوازې د څو رکعتونو امامت دی، خو په حقيقت کې داسې نده بلکې يو امام عملا په هغه مصلی (ځای نماز) درېږي چي سيد الانبياء صلی الله عليه وسلم ورباندې درېدلی و، چي په دې سره ټول امامان د هغه صلی الله عليه وسلم وارثان او ځای ناستي دي، نوله همدې کبله به امامان هغه مسـګـــئوليتونه تر سره کوي چي هغه صلی الله عليه وسلم به تر سره کول.

دا خو زموږ بد نصيبي ده چي زموږ په ټولنه کې جومات هغه مقام نه دی تر لاسه کړی چي نبوي مسجد درلود او نه امامان هغه مقام لري چي بايد درلودلای يې، جومات يوازې يو عبادت ځای جوړ شوی دی چي يوازې لمونځ کوونکي پکې خپل رسمي عبادت ته رادرومي. د دې خبرې هيڅ احساس نشته چي جومات يوازې عبادت ځای نه بلکې د اسلامي ټولنې، سيمې او کلي د مرکز حيثيت لري او امام يوازې د جومات امام نه دی بلکې په واقعيت کې هغه د دغه کلي مشر او فکري لارښود دی، جومات د امت د ژوند د چارو مرکز دی، د آذان او لمونځ په ذريعه يو مسلمان د ايمان او بندګۍ عهد

د اسلامي مقالاتو، سلايډونو، ويډيو ګانو، کتابونو لپاره اصلاح انلاين مه هيروئ:
www.EslahOnLine.net

تازه کوي او روزانه پنځه ځلې د اطاعت تمرين کوي، د ورورۍ، برابرۍ، همدردۍ او غم خورۍ درس اخلي هغه د خپلو ورونو سره بې تفاوته نه شي پاتې کېدلای ځو د هغو په غم او درد کې شريک نه شي او مرسته ورسره ونه کړي.

جومات د دعوت او ارشاد مرکز دی ځکه چې له دغه ځای څخه الهي حکمونه خپرېږي جومات د ښوونې او روزنې مرکز دی، مدرسه او ښوونځی دی، کتابتون او د مطالعې ځای دی، سياسي مرکز دی چې دلته مشران او ولس مشورې کوي او خپلې ستونزې حل کوي، بيت المال دی چې زکات او نوره بسپنه پکې راټولېږي او د اړو خلکو کفالت ورباندې کېږي، محکمه ده چې شخړې پکې فيصله کېږي، جومات ټولنيز فرهنګي مرکز (کميونټي سنټر) دی چې هلته د ودونو په څېر نورګڼ پروګرامونه تر سره کېږي، خو افسوس دا دی چې نه موږ د جومات مقام په سم ډول وپېژنده او نه مو امام د خپل مقام او منصب غوښتنې پېژني.

د اردو ژبې شاعر وايي:

ره ګي رسم اذان روح بلالي نه رهي

د اذان رسم خو شته خو د بلال (رض) اغيز پکې پاتې نه دی.

## درې تاريخي پېښې

په انساني تاريخ کې درې پېښو د اسلامي امت په تعمير او جوړښت کې مهم رول لوبولی دی:

1-د حراء په غار کې د وحې د نزول پيل: چې انسانيت ته يې قرآن ورکړ، قرآن د ژوند هغه سرچينه ده چې د انسان لپاره يې الهي هدايت تکميل او انسانيت ته يې دين د ژوند د مکمل او جامع نظام په توګه وړاندې کړی دی، نبي کريم صلی الله عليه وسل د ډېر جد او جهد او نه ستړې کېدونکي کوښښ څخه وروسته قرآني نظام پلې کړ او د

اسلامي حکومت د نمونې او بېلګې په وړاندې کولو يې وښودله چې انسانيت ته د وړپېښېدو مسايلو حل په دنيا کې د اسلامي نظام پرته په بل هيڅ نظام او ايزم کې نه پيدا کېږي.

2- ديارلس کاله وروسته له مکې څخه د مدينې لور ته د هجرت پېښه منځته راغله، دغه دومره مهمه پېښه وه چې زموږ د خپل تاريخ کليزه په همدې بنا شوه، د مکې څخه د مدينې په لور هجرت د اسلام په تاريخ کې يو فيصله کوونکی سفر دی، چې په پايله کې يې د اسلامي حکومت بنياد کېښودل شو، د حق او باطل د جګړې يوه تاريخ جوړوونکې شيبه وه هلته چې دا فيصله واوړول شوه: حق حق دی او برلاسي به هم د ده وي او باطل باطل دی زور به يې خامخا پای ته رسيږي خومره زور يې چې وي، تکتيک او جاه او جلال يې خومره هم وي د ذلت او ماتې سره به مخ کېږي او له منځه به ځي.

3- په 8 هجري کال د مکې د فتحې او نړۍ ته يې دا پيغام ورکړ چې راتلونکی د اسلام دی، د مکې فتحې عملا دا ثابته کړه چې انسانيت که د امن، انصاف او د ژوند ساتلو لپاره کوم متوازن، معتدل او مضبوط نظام غواړي هغه په اسلام کې دی او که څوک د ښه مقتدا او نمونې په لټه کې وي نو هغه د نبي عليه السلام په ذات کې دی... د يوه وګړي له ژوند څخه نيولې د حکومت تر تشکيلاتو پورې!

# د ټولنې د ښه ژوند په جوړولو کې د جومات رول:

مدينې ته د تشريف راوړلو څخه وروسته درسول الله صلی الله عليه وسلم لومړی کار د جومات تعمير او ابادول و، د دې خبرې څخه دا جوتيږي چې په اسلام کې مسجد کوم مقام او څومره اهميت لري، د دغه مسجد په تعمير کې هغه صلی الله عليه وسلم په خپله ګاون درلود او په خپل لاس يې تيږې وړلې، که څه هم چې نبوي جومات د عمارت او ښايست په لحاظ يو عام جومات و خو په اصل کې دغه مسجد د ټولو عالي



www.EslahOnLine.net

شانه جوماتونو د منځ ته راتلو بنياد وګرځيد، چې وروسته بيا په دهلي، قرطبه، اصفهان، تاشقند او لاهور کې تر سترګو کيږي، له جومات سره د امت د ژوند تړاو هغه مهال پيدا کيږي چې جومات د دعوت، عدالت (محکمې) او سياست مرکز جوړ شي، د شخړو فيصلې به دلته تر سره کېدې، د جهاد لپاره به غزا وشو نو خلک به دلته راټولېدل، لښکر له همدې ځايه روانېده، د شورا غونډې هم دلته تر سره کېدې، پنځه وخته لمونځ په جومات کې کېده آن تر دې چې منافق به هم په جومات کې حاضر و، دا تصور نه و چې يو وګړی امت مسلمه سره تړاو ولري او هغه دې په جومات کې حاضر نه وي، د سهار د لمانځه ځانګړی اهميت و د وخت خليفه عمر رضی الله عنه به چې د سهار لمانځه لپاره راووت نو خلک به يې هم لمانځه ته پاڅول.د صفونو د منظم او پوره ساتلو اهتمام کېده، د سياست، محکمې او د ټولنيز ژوند مرکز هم جومات و د اسلام په تاريخ کې سترې مدرسې په جوماتونو پورې تړلې وې، هغه مدرسې چې زمونږ لوی پوهنتونونه وو، اسلامي امت ته يې د کيمبرج او اکسفورډ بنه لرله. دغو جوماتونو ته څګېرمه د زده کوونکو لپاره د اوسېدو خونې وې، د تعليم نظام په جوماتونو کې قايم و،دغه زمونږ د عروج دور و ولې په وروستيو وختونو کې چې د امت زوال زور واخيست او د دنيا قيادت يې له لاسه ووت او جومات هم دغه مقام دلاسه ورکړ نو زمونږ ټولیز حالت هم ورسره يومخ بدل شو او د ذلت کندې ته وغورځيدو.

ضروري ده چې د جومات امامان هماغه مقام حاصل کړي چې د هغوی له شان سره وړ دی، ولې د دې لپاره اړينه ده چې د جومات امامان په خپله خپل ځان د دغه مقام او منصب د سنبالولو لپاره وړ او اواهل کړي چې له دې پرته د امت ټولنيز ژوند بيا را ژوندی کول ممکن نه دی.

اسلامي امت د دومره لوی شمېر سره سره بيا هم په ذلت او خوارۍ کې شپې تيروي، نور قومونه پرې برلاسي دي دومره لوی خطر ورپيښ دی چې په تاريخ کې يې ساری نه موندل کيږي، نوغالب تمدن چې مسلمانان په کومه کچه خپل حريف ګڼي او په نښه



www.EslahOnLine.net

کړي يې دي، له هغه نه زيات څه کولوته اړتيا ده، يوازې په بيانيو او تقريرونو، فيصلو او د هغوی د دسيسو په لوڅولو څه نه کيږي، د دغو خطرونو د مقابلې لپاره امامان د خپل مقام او منصب په پيژندلو سره واقعي رول لوبولی شي.

## د بدلون محور دلته دی

دا اړينه ده چې د جومات امامان د دې خبرې ور شي چې دغه مقام سنبال او تر لاسه کړي، امت ته لارښوونه وکړي او جومات ته د امت په ژوند کې هغه مقام ورکړي چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم د مدينې په ټولنيز ژوند کې جومات ته ورکړی و. داسمه ده چې امت د تاريخ په ډير نازک پړاو کې ولاړ دی او ډير درانه خطرونه ور اوښتي دي ولې په دغه خطرونو کې روښانه راتلونکی نغښتی دی، زمونږ لپاره د دنيا د رهبرۍ پراخه امکانات موجود دي همدغه وجه ده چې دښمن په مونږ پسې دی او په دې پوهيږي چې په نړۍ کې ابليسي تمدن ته يوازينی خطر مسلمان دی او دغه حقيقت علامه اقبال دابليس له خولې په ګوته کړی دی:

(لويديځ ته نه د سوشليزم څخه خطر شته او نه له مزدکيزم څخه، اصل خطر د اسلام څخه دی ځکه په اسلام کې دا قوت او صلاحيت شته چې د ده په مقابله کې راپورته شي او د هغه مخ ته ودريږي او چيلنج يې کړي).

د امت په داخلي ترکيبي هيات کې دغه ځانګړينه پرته ده چې درب العالمين لخوا اعلان شوې ده چې: "اخرجت للناس" دا د ټولو انسانانو لپاره جوته شوې ده چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم د ټولو انسانانو لپاره نبي را استول شوی دی. او امت به يې تر قيامته پورې دغه لاره تعقيبوي " وکذلک جعلنکم امه و سطالتکونوا شهداء علي الناس" (البقره 143 ايت).

(مونږ تاسې مسلمانان منځنی امت جوړ کړئ ترڅو د نړۍ په خلکو شاهد واوسئ)،



www.EslahOnLine.net

د امت شعار يې دا جوړ کړ
(وجاهدوا فی الله حق جهاده" (الحج 78 آیت)
د الله په لار کې داسې حق او مناسب جهاد وکړئ.
د قرآن لارښوونه ده چې دغه امت د څه لپاره منځ ته راغلی دی دا امت ددې لپاره نه دی راغلی چې ددنیوي ګټو سیاست وچلوي او یا په نړۀ کې یوازې د نوم ګټلو لپاره کاروکړي بلکې دنده یې داده چې ټول انسانیت د الله جل جلاله په بندګۍ کې داخل کړي دغه امت چې کله هم خپل منصب او دنده پیژندلې ده نو په 30 کلونو کې یې په نړۀ کې یو لوی بدلون او انقلاب راوستی دی،د هغه مهال له مسلمانانو سره وسایل کم و ولې د ایمان، یقین او یووالي پر بنسټ یې یوازې په 30 کلونو کې ایران او روم ته ماتې ورکړه او په 100 کلونو کې د ننه د اسپانیې غرونو او د چین ساحلونو ته ورسېدل، نړۀ د "رفعنالک ذکرک" عملي بڼه په خپلو سترګو ولیدله.
د نن زمانې د چیلنجونو د ختمولو او د کامیابو لاسته راوړلولپاره بیا هم همغه بڼه اختیارولای شو خو پدې شرط چې امت خپل مسئولیت لکه څنګه یې چې اړتیا ده سرته ورسوي.

# د امامانو دندې:

امامان په دغه کار کې بنسټیز رول لري، هغوی یوازې د لمانځه امامان نه دي بلکې د ټولنې امامان او رهبران دي چې بایدټولنه د محمد صلی الله علیه وسلم په لاره روانه کړي.
به مصطفي برسان خویش را که دین همه اوست
اگر به او نه رسیدي تمام بولهبي است

د دې لپاره باید دوی خپل ځان تیار کړي جومات د امت د ټولنیز ژوند ښووونځی او روزنتون دی امام دې په خپل ځان کې دا وړتیا پیدا کړي چې په دغه مقام کې د کیناستو په مهال خپله دنده او فریضه سرته ورسوي.

په ټولنه کې د جومات حقیقي مقام او مرتبه نن سبا ډېره کمزورې ده او امام په عملي توګه دومره بې وسه دی چې هغه (د جومات د سرپرست له اجازې پرته) د لمانځه د وخت د ټاکلو اختیار هم نه لري.

حقیقت دا دی چې امامان په خپله ډېر لوی قوت دی، که په هغوکې وړتیا او صلاحیت وي نو په ټولنه کې اوښتون او انقلاب راځي خو هغوی د خپلو وړتیاوو، صلاحیتونو او امکاناتو (فرصتونو) څخه بې خبره دي، د عربو په شپنو خلکو کې ایمان او یقین پیدا شو پایله یې دا شوه چې ډېر غوره جنرالان ور څخه جوړ شول، د تاریخ چیلنجونه یې درک کړل، د خپلو پټو وړتیاوو احساس ورسره و هغوی په نړۀ کې د لویو سوبو او فتوحاتو لړۀ پیل کړه او یوې ډېرې لویې نړۀ یې پیغام ومانه او تاریخ یې بدل کړ.

## ښاغلو امامانو!

له تاسې سره د روښنایي څلی شته هغه د نبوي مسجد امام نبي کریم صلی الله علیه وسلم دی، د هغه صلی الله علیه وسلم اخلاق، شهادت، کړه وړه، اخلاص، زړه سوی دی... او د دې څخه ور هاخوا یې دغه عظیم کار هم سرته رساوه.

تاسې د خپل ځان لپاره یوه د عمل لایحه جوړلای شئ چې بنسټیز ټکي پکې درج شي:

له هر څه د مخکې او مهمه خبره دا ده چې له تا سره د صحیح څیزونو علم او پوهه وي، د الله جل جلاله یووالی او د رسول الله صلی الله علیه وسلم ګواهي چې د قیامت په ورځ به یې په امت باندې ورکوي ستاسو ګواهي چې د ژوند برخه وي. د اسلام پوره روح او د هغه ټول عمارت په توحید ولاړ دی، جومات ته په راتلونکو کې الله جل


www.EslahOnLine.net

جلاله ته د احتیاج کیفیت پیدا کول ځکه چې د ژوند په هره مساله کې مورږ الله جل جلاله او د هغه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته محتاج او اړیو، په شعوري ډول د دې هګڅه کول او د دې لپاره تدبیر سنجول چې الله جل جلاله ته د بنده د محتاجي نسبت پیدا او الله جل جلاله سره تعلق قایم شي دا به دې له لومړیتوبونو څخه وي.

تاسې په خپلو مقتدیانو کې نبي کریم صلی الله علیه وسلم سره د مینې او اطاعت جذبه او ولوله پیدا کړئ، د مصطفی صلی الله علیه وسلم سره یې عشق او علاقه پیدا کړئ، پدې سره د امت په جسد کې قوت پیدا کیږي د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د ذات ګرامي سره مینه د قوت او پیاوړتیا هغه سرچینه ده چې یوازې له تاسو سره ده، چې له بل امت سره نشته، صنعتي ترقي، پرمختیا او د کارخانو قوت اصلي قوت نه دی په دغو سره هغه کارنه تر سره کیاګ ي چې تاسې یې په مخ کې لرئ.

د امت په ژوند کې د دین او دنیا ترمینځ د یو والي راوستلو کار هم ستاسې دی.

علم او پوهه یوازې په احکامو او مسایلو پوهېدلو ته نه بلکې د احکامو او مسایلو سره سره د حکمت او مصلحت پیژندلو ته ویلی شي نبي کریم صلی الله علیه وسلم د کتاب سره سره د حکمت ښودنه هم کړې وه، حکمت هغه څیز دی چې (خیر کثیر) ورته ویل کیږي: (ومن یوت الحکمه فقد اوتي خیرا کثیرا) التوبه 269 آیت". چاته چې حکمت ورکړل شو په حقیقت کې لوی خیر ورکړل شو.

# دیني حکمت او پړاویز توب (تدریج)!

که انسان له حکمت سره بلد نه وي نو په دین عمل کول او نورپرې روانول او د دین قوت پیژندل ورته ناشوني دي، یوازې د احکامو او مسایلو بیانول په دین عمل نه دی بلکې په دین عمل یوازې هغه مهال کیږي چې خلک اماده شي چې د دین مسولیت په غاړه واخلي، په هغو کې د اطاعت وړتیا پیدا شي، دغه حکمت ګڼ اړخونه لري:

يوډول حكمت د احكامو د پراويز توب فهم دى، ټول حكمونه يو شانته نه دي د عمل كونكو لپاره دا اړينه ده چې وپوهيږي چې په احكامو كې پراوونه شته: يو ځلي په نبوي جومات كې خلكو د فرض لمونځ له اداكولو وروسته په هماغه ځاى كې چې فرض يې ادا كړي وو، پورته شول او سنت يې ادا كول عمر رضى الله عنه وفرمايل: مخكيني امتونه په همدې تباه او هلاک شوي وو چې د فرضو، سنتو او مستحبو تر منځ يې فرق نه كولو نو امت چې زوال په لار درومي، داسي وشي چې زيات زور مستحبو او سنتو ته وركړي او فرض شاته وغورځوي.

د حكمت يو اړخ دا هم دى چې په قرآن كې يوازې د خنزير له غوښې او د شرابو له څكلو منعه نده شوې بلكې حسد (كينه، رخه) او غيبت يې هم حرام كړى دى همدارنګه د الله جل جلاله په لار كې جد او جهد او سر ښندنه يې هم په لويو نيكيو كې شمېرلې ده:

" اجعلتم سقاية الحاج و عمارى المسجد الحرام كمن آمن بالله واليوم الآخر وجاهدفي سبيل الله" (التوبه 19).

ايا تاسي حاجيانو ته اوبه وركول او د مسجدحرام ابادي د هغه چا د كار سره برابروئ چې په الله او د اخرت په ورځ ايمان لري او د الله په لاره كې جهاد كوي.

د الله جل جلاله رسول د هغه حكمونه په واضح ډول بيان كړي او عملي بيلګه يې هم وړاندې كړې ده لكه د احكامو سره سره يې اخلاقي ښووني او د الله جل جلاله په لاره كې جد او جهد ته هم زيات اهميت وركړى دى همدا وجه ده چګې د ايمان سره سره اخلاق او د كردار جوړول او د دين د لويوالي لپاره د جد او جهد لورته هم توجه او پاملرنه كيږي.

چې په پايله كې يې د يو مسلمان داسې اخلاق او كردار جوړيږاي چې اصلا مغلوب دى او د دين د برلاسة لپاره د جد او جهد په نتيجه كې يوه په زړه پورې اسلامي ټولنه منځ

ته راځي او دا د اسلام ځانګړنه ده او په دې سره ټولنه د اسلام د ژوند د پوره نظام له رښتينو برکتونو څخه ګټه پورته کوي.

په دې سره تاسې په دې هم پوهيږئ چې هر کار په تدريج سره کيږي، ټول دين پرخلکو په يو ځل نه پلی کيږي، د طبيعت او نفس د وړتيا سره به په تدريج سره په خلکو کې چليږي، د هر څه څخه وړاندې د زړه د ننه به ايمان پيدا کيږي دغه دسلفو دکار طريقه ده هغوی د تدريج اهتمام کاوه د دين ټولې غوښتنې يې په يو ځل د چا مخکې نه ايښودې.

سيرت پاک که مطالعه شي نو د نبي کريم صلى الله عليه وسلم د کاميابه راز په دې کې جوتيږي چې هغه د مينې، رحمت او شفقت مجسم وجود و، قرآن په دې شاهدي ورکوي:

(فبما رحمه من الله لنت لهم ولوكنت فظا غليظ القلب لانفضوا من حولک). آل عمران 159 ايت.

دغه د الله جل جلاله لوی رحمت دی چې ته د هغوی لپاره نرم خوی لرې که تيز خويه او سخت زړی وای نو دوی به ستا له شاوخوا نه تيت شوي وای.

هغه صلى الله عليه وسلم نرم زړی و، په تاديب ورکولو کې يې هم نرمي کوله يوه کوچې په نبوي جومات کې متيازې کولې صحابه د هغه منعه کولو ته پاڅيدل هغه صلى الله عليه وسلم دوی منعه کړل وروسته يې صحابه وو ته وفرمايل: هغه ځای پرېمنځئ او پاک يې کړئ، د هغه صلى الله عليه وسلم د طرزالعمل نتيجه دا شوه چې هغه شخص د تل لپاره مطيع او تابع جوړ شو.

سيد قطب (رح) د سوره الاعلى په تفسير کې يوه واقعه نقل کړې ده چې يو سړی د رسول الله صلى الله عليه وسلم خواته راغی څه يې وغوښتل هغه صلى الله عليه وسلم ورته ورکړل هغه ناخوښي ښکاره کړه نو هغه صلى الله عليه وسلم ورته نور ورکړل چې بيا وربانديې خوښ شو.



www.EslahOnLine.net

هغه صلی الله علیه وسلم صحابه کرام مخاطب کړل او ویې فرمایل: چې زما او ستاسې مثال داسې دی چې یو تریدلی اوښ دی او تاسې ورپسې أانګ راخیستی دی چې په دې سره هغه نور هم زیات په ویره او ترهه کیږي. ولې څښتن یې په محبت او شفقت سره قابو او ایل کولی شي. اوس موږ د دغه قوم سم لورې ته د لارښوونې او روزنې لپاره د هغه صلی الله علیه وسلم نرمي، محبت او شفقت ته اړتیا ده، چې که د جومات له منبر څخه د دین د ښوونې هماغه انداز وي، نو نتیجه به ورکړي.

## جومات د کلي مرکز دی:

د ټولنې سره دجومات د اړیکو په جوړولو کې امام مهم رول لري. جومات صاف سوتره ساتل په کار دي او نظافت او پاکي په دین کې زیات اهمیت لري. دغه پاملرنه په مسجد کې تر سترګو کیږي د سیمې جومات د خلکو مرکز بلل کیږي، خلک هلته کښیني او د خپلو ستونزو او مسایلو په اړه خبرې کوي. جومات هغه ځای دی چې هلته سجده کیږي که څه هم چې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم له نبوي ځانګړنو څخه یوه دا ده چې ټوله ځمکه د هغه لپاره د سجدې ځای ګرځیدلی دی او مسلمان په هر ځای کې په خاوره سرایښودلی او سجده کولای شي.
د دې یوه معنا داده چې مسلمان چې هر ځای وغواړي لمونځ کولای شي بلکه دا چې د مسلمان دنده او وظیفه ده چې په ټوله نړۍ کې د الله جل جلاله بندګي عامه کړي، له مسجد جوړولو څخه وروسته د نبي کریم صلی الله علیه وسلم ټوله پاملرنه دجومات ښکلا او ښایسته کولو ته نه وه بلکې د هغه صلی الله علیه وسلم اساسي توجه او پاملرنه د دین برلاسي ته وه چې نړۍ په دین روانه شي هغه صلی الله علیه وسلم غوښتل چې خلک د انسانانو له غلامۍ او د دنیا له تنګیو څخه د یوه الله جل جلاله د بندګۍ وسعت


www.EslahOnLine.net

او پراخي ته راوبلي نو د جوماتونو د امامانو اساسي دنده همدا ده او دې ته بايد لومړيتوب ورکړي.

هغه صلى الله عليه وسلم جومات د نور د منارې په څېر جوړ کړ د امامت د دندې په سرته رسولو هغه لوی مقام تر لاسه کړ، الله جل جلاله هغه صلى الله عليه وسلم په ازمينښت کې واچاوه په هغه صلى الله عليه وسلم يې ډېر لوی مسوليتونه واچول او هغه صلى الله عليه وسلم دغه دندې په ښې وړتيا سرته ورسولې. نو د رسول الله صلى الله عليه وسلم په پله د تګ او د هغه د لارښونو په رڼا کې د خپلو وړتياوو څخه کار اخيستل په کار دي د سيرت په ښې مطالعې سره د رسول الله صلى الله عليه وسلم د دغې اسوې پوهه لاسته راوړلای شو، چې خپله يې عملي کړي، لمونځ کونکي اماده او تيار کړي په دې کار سره په امت کې هغه قوت او ځواک پيدا کيږي چې د نړۀ رهبري او قيادت ورباندې کولای شي.

د جمعې خطبه د اسلام د ښوونې او روزنې په نظام کې بنسټيز رول لري له دې کبله د جمعې لمونځ لازم او فرض شوی دی، هيڅ وګړی يې په ځانځاني سره له جماعت پرته نه شي ادا کولای د کلي د مرکزيت له کبله يې په هر سړي جومات ته ځان رسول لازمي کړي دي او د جمعې د خطبې په وجه د فکري لارښوونې او تزکيې او روزنې وسايل برابريږي، له همدې لارې هره اونة د غه کړنه تکراريږي نو ځکه د جمعې خطبه ځانګړې توجه او پاملرنه غواړي. که محترم امامان د يادوشو ټکو په رڼا کې خپل غورچاڼ په پام کې ونيسي او د ايمان، اخلاقو، تدريج (پړاو په پړاو) د عامو خلکو په مسايلو موضوع ګانې جوړې کړي او خطبې ورباندې ورکړي نو دغه مهال به يې خپله دنده په ښه ډول تر سره کړې وي، عوامو ته به هم په زړه پورې وي او ورو ورو به جومات ته د کلي د مرکز مقام حاصل شي.

البته يوې خبرې ته بايدځانګړی اهتمام او پاملرنه وشي هغه داچې امامان کله خطبه ورکوي نو هغه خبرې دې بيانوي چې ټولو علماو ته د منلو وي په دې سره فکري او

ملي همغږي راځي او د اختلاف خپريده پای ته رسيږي ټول مسلمانان د يوه بدن په څېر د امت حقيقي کردار اداکولای شي او دا د وخت غوښتنه او اړتيا هم ده.

امت نن سبا د زوال سره مخ دی په ايمان او اعمالو کې يې زوال او کمزوري ښکاره شوې ده ددې علاج دا دی چې خلکو ته د دين سمه ښودنه وشي پدې لاره کې خامخا ستونزې شته خودتاسې مسوليت دا دی چې خپل کار ته دوام ورکړئ، ستونزې له ياده وباسئ او په خپل کار کې هڅاند اوسئ، د نيت د اخلاص سره عزم، اراده او کوښښ په کار واچوئ.

هرو مرو به نتيجه ورکړي او پايلي به يې راووزي په دې وخت کې پراخې سينې او د نظر وسعت ته اړتيا ده دا به ستاسو په چلند او خبرو کې ښکاره کيږي.

په يقين سره ويلی شو که دغه امور په نظر کې ونيول شي او تاسې د امامت د وظيفې مسوليت تر سره کړئ او دغه تحريک د جوماتونو په امامانو کې عام شي نو په ټولنه کې به زر تر زره مثبتې او ګټورې اغېزې تر سترګو شي.

پای



www.EslahOnLine.net